د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د ترکیبي پاڼو لړۍ

# تر کومه ځایه هڅې؟

## په افغانستان کې پالیسي جوړونه او دولت جوړونه



سارا پارکینسن

د ۱۳۸۹ کال د لړم میاشت

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې او دمعلوماتو پراخول دي.

همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره نوموړې اداره د پالیسي جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړې کولو او ددوی په مینځ کې د دې ادارې د څېړنو او کتابتون څخه د ګټه اخیستنې دترویج په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

نوموړې ادارې په ۱۳۸۱لمریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته یې په کار پیل وکړ اود یو مدیره پلاوې درلودونکې ده چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلی بودجه د ډنمارک ، فنلند، ناروی، سویډن، سویزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. د افغانستان د پرانیستې ټولنې د انستیټیوت (FOSIA)، ایشیا فوندیشن (TAF)، اروپایي کمیسیون (EC)، او د نړیوالې پراختیا لپاره د څېړنیز مرکز (IDRC) له خوا ددې ادارې له ځانګړو پروژو سره مالی مرستې کیږي.

ژباړونکی : سعیدالله "رښتین"
طرح او ډیزاین: وکیل وسیم

د پوښ انځور: سارا پارکنسن

© ۱۳۸۹ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره. ځینې حقونه خوندي دي.دغه خپرونه ښایي د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د لیکوال د لیکلې اجازه لیک د تر لاسه کولو سره بیا خپره، د موندلو وړ سیستم کې زیرمه او یا یواځې د غیر-سوداګریزو موخو لپاره ولیږدول شي. چیرې چې دغه خپرونه بیا خپره، زیرمه او یا د بریښنایي لارې لیږدول کیږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې دادارې د ویب پاڼې اړیکه باید ذکر شي www.areu.org.af. او ددې خپرونې په کارول له نوموړې موافقې پرته ، د خپرونکې یعنې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې مخکینې لیکلې اجازه لیک ته اړتیا لري. دغه اجازه لیک کیدای شي د areu@areu.org.af او یا د ۰۰۹۳۷۹۹۶۰۸۵۴۸ شمیرې سره د اړیکې له لارې تر لاسه شي.

## د ليکوال په هکله

سارا پارکینسن د افغانستان د څیړنې او ارزونې په اداره کې د اړیکو او دمدافعت د څانګې مشره ده او د ۱۳۸۷ کال د زمري د میاشتې راهیسې ددې ادارې د پالیسي د بهیر څیړنېزې پروژې مشري کوي. دهغې شالید د پراختیالپاره د اړیکو په برخه کې دی، د کاناډا د سیمون فراسر له پوهنتون څخه د ټولنیزې اقتصادي پراختیا په برخه کې د لیسانس سند، او د کاناډا د ګیولپ د پوهنتون څخه دواړه په کلیوالي پلان جوړونې او پراختیا(نړیوال تمرکز) کې ماستري، او په کلیوالي مطالعاتو کې دکتورا لري. سارا په افغانستان، کاناډا، کولمبیا، ګانا، سویلي افریقا او یوګنداکې د لسو کلونو لپاره د پراختیا لپاره د اړیکواو د پراختیا لپاره د څیړنې پورې اړونده برخو کې دنده، تدریس او څیړنه ترسره کړې ده. د افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې ته له راتګ وړاندې یې تر ټولو وروستی کار یوه څیړنه وه چې په یوګنډا کې په پالیسي او د ملي پراختیا په سیستم باندې د کروندګرو د نفوذ د اعمال پر څرنګوالي تمرکز کوي

## مننلیك

نوموړې پاڼې د یو شمیر موضوعي څیړنو څخه ګټه اخیستې چې د سید محمد شاه، آدم پین، مارټن وان بیلجرت، لارین اوتس، او پاولا کانټور لخواترتیب او سرته رسیدلي. د شعیه د شخصیه احوالو د قانون د تصویبیدو د قضیې په اړه زمان سلطاني او فوزیه رحیمي مل څیړنیز ملاتړ کړی دی. د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي په قضیې کې د ځانګړو سکتوري ستراتیژیو په برخه کې یو زیات شمیر شنونکو هم لا ډیر معلومات وړاندې کړي دي. د آدم پین او پاولا کانټور علمي مرستو په نتیجه کې دغې پاڼې بڼه واخیسته او د پالیسي د بهیر ټوله څیړنیزه پروژه د ډیر ارزښت وړ ده.

ددې پاڼې په لومړنی مسودې باندې د یو شمیر ناځرګندو کتونکو په شان پورتنیو ټولو کسانو ګټورې او له بصیرت ډکې تبصرې کړي . لیکلواله همدا راز د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې د خپرونو له ډلې څخه د رپوټ د تصحیح او خپریدو ته چمتو کولو په برخه دهغوي د کار څخه مننه کوي. تر ټولو وروسته خو ارزښت یې کم نه دی، لیکواله د بیلابیلو حکومتي، نا حکومتي او ډیپلوماتیکو ادارو له ګڼو کسانو څخه د زړه له کومې مننه کوي او ورته کورودانی وړاندې کوي چې د مرکو او نورو ډول تبصرو او نیوکو له لارې یې پدې پاڼې کې راغلو ځانګړو موضوعي څیړنو سره مرسته کړې ده.

سارا پارکینسن

د ۱۳۸۹ کال د لړم میاشت

# اجرائيوي لنډيز

## په افغانستان کې د پاليسي جوړونې او دولت جوړونې اجنډا:

دولت جوړونه يوه داسې موضوع ده چې د بشپړ انسجام او پراختيا پرته يې هم، له ۱۳۸۰ کال راهيسې د يو نوي رامنځته شوي افغان دولت په مرسته په افغانستان کې د نړيوالو فعالانو د اقداماتو تر منځ همغږي او تمرکز رامنځته کړی دی. په نوموړو فعالانو کې د افغان سياستوالو، ملکي مامورينو، او ملي فني سلاکارانو سربيره بيلابيل هغه ډيپلوماتان او شنونکي هم ګډون لري چې د ملګرو ملتونو او يا د ۶۲ بسپنه ورکوونکو هيوادونو او سازمانونو څخه د يو په استازيتوب يې دلته کار کوي. د يو دولت دځرنګوالي په اړه دبيلابيلو نظرونو سره سره په داسې حال کې چې د خپلو يو لړ ځانګړو ګټو چې دوی يې استازيتوب کوي لټه او ملاتړ کوي زيات شمير دغه فعالين د دولت جوړونې په برخه کې هم يو څه ژمن دي. په ځانګړې ډول په ملي کچه رسمي پاليسي جوړونه، د دولت جوړونې د اجنډا د پر مختګ او پراختيا تر ټولو څرګنده وسيله ګڼل کيږي. د پاليسي جوړونې دغه ډول بهيرونه په خپل وار په موجوده او پخوانيو اداري فرهنګونو او ډير ځلې پرغير رسمي پاليسۍ او کړنو سره په ګډه کار کوي. او د همدې ګډوالۍ په پايله کې بيا يو نوی رامينځ ته کيدونکي دولت بنه اخلي.

نوموړې څيړنه، په ملي کچه د پاليسي جوړونې يو شمير بهيرونه توضيح کوي او هڅه کوي پر هغو پراخو بيلګو او تکراريدونکو مسايلو رڼا واچوي چې د سپتمبر د ۱۱ مې نيټې وروسته په افغانستان کې دغه شان بهيرونه توضيح کوي. موندنې په لومړي سر کې د پنځو بيلابيلو موضوعي څيړنو(قضيو) د پرتله ايزو شننو له مخې وړاندې شوې دي. هره قضيه د نړيوالې ټولنې (په ځانګړي ډول بسپنه ورکونکو)، د افغانستان د حکومت او خلکو تر منځ پر اړيکو رڼا اچوي. نوموړې څيرنه د دولت د واکمنۍ د بنسټ په توګه د حکومت د مالکيت، او د يو سالم دولت د بنسټ په توګه د دولت د مشروعيت پر مفاهيمو چې د دولت جوړونې وروستۍ موخه ده - يو ځانګړی تمرکز کوي.

د پنځو موضوعي څيړنو لنډه توضيح او تحليلي کتنه په لاندې ډول وړاندې کيږي.

## د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ تسويد

د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ (ANDS) تسويد يو ډير مهم ماموريت ؤچې پکې د وزارتونو او د وزارتونو تر مينځ ډير شمير سلاکارو ډلو، فرعي ډلو، کميټو، او پلاوو تر څنګ د زيات شمير فعالانو په ملتيا ملي او ولايتي سلا مشورو هم ګډون درلود. او په پايله کې داسې يوه پاليسي رامنځته شوه چې ډير مهم مسايل پکې ځای په ځای شوي وو- ان تر دې چې ويلای شو چې کابو د ټولو خلکو لپاره هر څه وو(د ټولو غوښتنې پکې په پام کې نيول شوې وې)، له همدې کبله د محدودو سرچينو د ځانګړې کولو او د کړنو په لارښوونه کې د لومړيتوب ورکولو وړتيا يې خورا محدوده وه. سر بيره پر دې، د ګډون کوونکو لخوا د نوموړې بهير د پيچلتيا او زماني فشار احساسول دا مانا لري چې دغه پايلې په بيلابيلو سکټورونو کې اکثراً لړ وړاندې- اخيستنه کوي. دغه محدوديتونه پدې مانا دي چې په ځينو حالاتو کې وزارتونه لړ تر لړه په ظاهري ډول پخپله د افغانستان ملي پراختيايي ستراتيژۍ ته له لړې پاملرنې سره د خپلو ستراتيژيو په بيا تسويد او پرمخ وړلو کې نسبتاً ګرندي دي.

په همدې توګه د افغانستان ملي پراختيايي ستراتيژي، د پاليسي جوړونې د پراخو بهيرونو د روښانه ټکو د يادولو تر څنګ د هغوی ځينې محدوديتونه او ستونزې هم بيانوي. د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ بهير پر محدود ظرفيت درلودونکي افغان حکومت باندې د پلان جوړونې د تمرين په توګه يې يو جدي فشار رامنځته کړ. د نوموړي بهير پايلې ښايي د پور د خلاصون (د روسيې د ميراثي پور) له معيارونو او د نورو مرستو لپاره د بسپنه ورکوونکو د ژمنو په تر لاسه کولو کې مرسته کړې وي، خو په عين وخت کې يې ښايي د حکومت پام د خپلو خلکو د لومړنيو اړتياوو د پوره کولو او هغو ته دځواب ورکولو څخه هم بلې خواته اړولي وي.

## د کرنې او د کليو د پراختيا په سکټورونو کې پاليسي جوړونه

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL) او د کليو د بيارغونې او پراختيا د وزارت (MRRD) تر منځ د پاليسي جوړونې د تجربو پرتله

کول، له بسپنه ورکوونکو سره د شرایطو  په اړوند بحثونو کې د حکومت دمشرتابه اهمیت څرګندوي. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت چې د (۱۳۸۷-۱۳۸۱) اټکل شوي مودې په بهیر کې ډېر کمزوری ګڼل کیده پکې د وزارت پالیسي تر ډېره ځایه د بسپنه ورکوونکو تر نفوذ لاندې وه- آن تر دې بریده چې د پالیسي زیاتره بحثونه به د بسپنه ورکوونکو تر منځ ترسره کېدل او  وزارت به په دې بحثونو کې ګډون نه درلود. پداسې حال  کې چې بریښېده د پالیسي جوړولو یو شمیر تمرینونه چې د اغیزمن  مدیریت په برخه کې د وزارت د ظرفیت د لوړولو لپاره ترتیب شوي وو لږ څه ګټور وو، خو بیا هم د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په عمل کې دومره فعال نه ؤ او زیاتره کارونه یې د بسپنه ورکوونکو په لارښوونه او د وزارت د بودیجې څخه بهر پروګرامونو له لارې ترسره کېدل.

له بله اړخه، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت پخپله ارادي ډول پر ملي پالیسي دومره ټینګار و نه کړ او پر ځای یې د پروګرامونو په جوړولو او اداره کولو تمرکز وکړ. په لومړي سر کې نوموړي وزارت له نادولتي سازمانونو سره د پلي کوونکو ملګرو په توګه کار وکړ او په  دې  توګه د پیاوړې مشرتابه په ښودلو یې د بسپنه ورکوونکو باور تر  لاسه کړ. د نوموړي وزارت  په پخواني مشرتابه کې وزیر، د وزیر مرستیال، او نورو مهمو مشرانو چې پخوا یې په نا دولتي سازمانونو کې کار کاوه  ګډون  درلوداو د پخواني حکومت د بیروکراتیک کلتور په پرتله یې ښې پایلې لرونکې او اغیزمنې کړنلارې څخه کار واخیست.  د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت  په دې وتوانیده چې د پانګې اداره په خپل لاس کې واخلي  او  د خپل وزارت د ظرفیت د لوړولو لپاره د پانګې یوه برخه ځانګړې کړي. د کلیو د بیارغونې او پراختیا د وزارت د ټولو پروګرامونو له ارزونې څخه پرته، په ځانګړي ډول ځایي ټولنو ته د ځانګړو شوو بودیجو د لیږد او د هیواد په کچه په زیربنایي پروژو کې د هغوی د بوختولو له لارې نوموړې کړنلارې په څرګند ډول ځینې مهمې پایلې درلودلې دي.

د پورتنیو دواړو وزارتونو په مشرتابه کې وروستیو بدلونونو  وښوده چې د ددې وزارتونو برخلیکونه او ورتیا هماغسې کمزورې او په عمل کې  ضعیفه پاتې ده خو په مشرتابه کې یې دغه کمزورتیاوې نه شته.

## د پوهنې په وزارت کې د پالیسي جوړونې لپاره ظرفیت جوړونه

نوموړې موضوع د پوهنې  په وزارت کې د ملي پالیسي جوړونې دوه پړله پسې تجربې په ۱۳۸۵ کال کې د پوهنې د ملي ستراتیژۍ د سند او په ۱۳۸۸کال کې د همدې ستراتیژۍ د سند دوهمې ګڼې رامنځته کېدل - او ظرفیت جوړونې پورې اړوندې هڅې سره پرتله کوي. دا په ډاګه شوې چې په نوموړي وزارت کې له ۱۳۸۵ کال راهیسې د ګڼ شمیر  هغو ملي فني سلاکارانو د» ګمارلو» له لارې چې د بسپنه ورکونکو له خوا یې معاشونه ورکول کیږي د پالیسي جوړونې ظرفیت  لوړوالی موندلی دی. پداسې حال کې چې د فني سلاکارانو شتون د پلان جوړونې د مسوولیت او بسپنه ورکونکو سره د ښکیلتیا په برخه کې یې د وزارت ظرفیت لوړ کړی دی،خونوموړي»دوه غاښنه» کړنلاره ډېر زیات لګښت لري او همدارنګه ددولت رسمي ګمارل شوو کارکوونکو ته د نوموړي ظرفیت د لیږد په اړه هم کوم شواهد نه لیدل کیږي. له بلې خوا د تعلیمي پلان جوړونې د نړیوال انستیتیوت د ملاتړ په اساس دپوهنې وزارت د پلان ریاست د ظرفیت په لوړولو سره نوموړی ریاست  په دې وتوانید چې په ۱۳۸۸ کال کې د پوهنې د ملي ستراتیژۍ د سند د بیا تسوید د بهیر لارښوونه وکړي. دا په دې معنی چې ددې فعالیت په پایله کې د پوهنې د ملي ستراتیژۍ سند د بیا تسوید بهیر  د حکومت په لارښوونه ترسره شو او دمسودې اصلي ژبه د انګلیسي پر ځای دري وه. سره له دې، د پوهنې د وزارت نورو ریاستونو د پوهنې د ملي ستراتیژۍ د دوهم ځل تسوید په  بهیر کې د لومړي ځل په پرتله یې په نسبي ډول کمه ونډه درلوده. چې دغه کار د دولتي ادارو د ظرفیت جوړونې په ځینو ستونزو او د نوموړو ستونزو پر حتمیت او اوږد مهاله ماهیت رڼا اچوي.

## د سیمه ایزو ګمارنواړونده پالیسي

د والیانو او ولسوالانو د ګمارلو د اړونده پالیسی یوه څېړنه دې ټکي  ته پام راړوي چې نوې رامنځته شوې رسمي پالیسي موجوده اصولو او چارو ته په ساده ډول سمون او بدلون نه ورکوي.  او که چیرې په ساده ډول د دا ډول چارو او په ځانګړي ډول په کې د پرتو سیاسي ګټوپه واسطه چې د اړیکو له لارې پیاوړې کیږي مخنیوی یې ونه شي نو دغه رسمي پالیسي په خپله سمون مومي.  د بیلګې په ډول د اداري اصلاحاتو او دملکي خدمتونو خپلواک کمیسون چې په ۱۳۸۱ کال کې د ورتیا پر بنسټ د ګمارنو د پلي کولو لپاره رامنځته شوی ؤ  هڅې

یې د بیلابیلو سیاسي مقاومتونو او محدودو بریالیتوبونو سره مخامخ شوې. آن کله چې د ورټیا پر بنسټ د ګمارنې لاربنود پلی کیږي، ډیر ځلې ددې لپاره چې د پام وړ نوماند هغه لازم شرایط پوره کړي نو په دې کې هم لاسوهنه کیږي.دا کار دیوه نوماند د تخنیکي وړتیا پر ځای د هغه مهمو سیاسي اړیکو او اعتبارنامو ته د زیاترو سیاسي فعالینو لیوالتیا او سیاسي ګټې څرګندوي.

نوموړې موضوع په یو نوي رامنځته کیدونکي دولت کې،چیرې چې د عامه حساب ورکونې میکانیزمونه پکې خورا کمزورې دي او کیدای شي د حکومت مهم فعالان پخپله هم داسې کړنې ترسره کړي چې د عامه ګټو خلاف وي، د»حکومت د مالکیت» د نظریې حدود په ډاګه کوي. لکه څنګه چې نوموړي فعالان له یو بل سره د ساتنې او ګټې په موخه همکاري کوي ، نو ښایي د هغو خلکو د ګټو او غوښتنو په وړاندې ځواب ویونکي و نه اوسي چې دوی پرې حکومت کوي. که څه هم چې ددولت جوړونې هڅې د پخوانیو سیاسي مخورو د واک ځینې نورې سرچینې لکه د ځایي ملیشو کارول کمزورې کوي خو په حقیقت کې یو رسمي دولت ښایي هغوی ته د ساتنې او واک نوې بڼې وړاندې کړي.

## د شعیه د شخصیه احوالود قانون جوړونه

نوموړې موضوع، په کوم کې چې د شعیه د شخصیه احوالو قانون پکې له پارلمان څخه د یوه اوږد او په بشپړ ډول غیر عادي سفر څخه وروسته تصویب شو، د یو هڅوونکي عنصر په توګه د افغانستان د اوسنی مدني ټولنې د پیاوړتیاوو او کمزورتیاووتر څنګ په افغانستان کې د پالیسۍ د زیاترو فعالانو او د افغانانو د پراخو پرګنو تر منځ د اړیکو نشتوالي باندې رڼا اچوي. همدا رازنوموړې څیړنه د یوې داسې موضوع ته د رسیده ګی په غبرګون د بسپنه ورکوونکو د اصولو د څرنګوالي مخالفت په ډاګه کوي چې له یوې خوا د افغانستان له خوا د منل شوو بشري حقونو د نړیوالو قوانینو څخه ښکاره سرغړونه ده او له بلې خوا د افغاني واکمنی او دیني هویت په څیر مهمو موضوعاتو سره په ټکر کې ده. نوموړې شننه څرګندوي چې د عامه پوهاوي اود دغه شان موضوعاتو په اړه د بحثونو لپاره د لارې هوارول کیدای شي د بسپنه ورکوونکو د نفوذ اړتیا لږه کړي، په داسې حال کې چې په عمومي ډول د نورو بیلابیلو اسلامي هیوادونو سره ټینګې اړیکې او دهغوی نظریات کولای شي په عمومي توګه د منلو وړ حقوقي پرمختګ لپاره زیات فرصتونه برابر کړي.پورتنی دواړه کړنلارې کولای شي پر مذهبي بنسټ ولاړ حقوقي تفسیر هغه محدود انحصار د له منځه وړلو سره مرسته وکړي چې لږ شمیر مخور سیاسي فعالان یې غوښتونکي دي. په هر صورت، په افغانستان کې حقوقي تفسیرونه اود دودیزو او اوسنیو ځواکونو تر منځ ترینګلتیا اوږد تاریخ لري او ښایي چې د خورا حساسو موضوعاتو په توګه به پاتې هم شي.

## اغیزمن بدلون: ددولت د مشروعیت د پیاوړتیا لارې چارې

پورتنی پنځه موضوعګانې دولت جوړونې پورې د اړونده پالیسي جوړونې بیلابیل اړخونه په ډاګه کوي او په ځانګړې ډول د بسپنه ورکوونکو او حکومت تر منځ د پیچلو او ستونزمونو اړیکو تر څنګ د خلکو او د دې دواړو فعالانو(حکومت، نړیواله ټولنه) تر منځ نسبتاً کمزورې اړیکې څرګندوي. سره له دې دغه موضوعات د فعالیتونو د یوې ایمانداریږ کرۍ پر لور چې ښایي دخلکو په وړاندې د اغیزمن ځواب ویونکې په توګه د دولت د وړتیا د پیاوړې کولو له لارې د دولت مشروعیت هم پیاوړی کړي د مثبتو اودوه اړخیزو همکاریو فرصتونه او بیلګې په ډاګه کوي. د نوموړو موضوعاتو د موندونو پر بنسټ؛ بسپنه ورکوونکو، د پالیسی سمون غوښتونکو فعالانو او هغو څیړونکو ته چې پر پالیسۍ د اغیزې غوښتونکې دي، لاندینی مهمې سپارښتنې وړاندې کوي.

## بسپنه ورکوونکو ته وړاندیزونه

١. د "فني" اقداماتو سیاستونوته پام: د ټولو بسپنه ورکوونکو اقدامات باید د هغوی د سیاسي او دولت جوړونې د نظریو پر بنسټ په پام کې ونیول شي یعنې: د چا لومړیتوبونه یوه پالیسي منعکسوي؟ د سرچینو له ځانګړې کولو څخه چاته ګټه او چاته زیان رسیږي؟

٢. بسپنه ورکوونکي باید د «شخصي ګټو یوه روښانه» پالیسي خپله کړي: په داسې حال کې چې د بسپنه ورکوونکو عناصر په طبیعي ډول ددوی له کورنیوګټو څخه سر چینه اخلي هغوي باید وپوهیږي چې د بهرنی بودیجې د سرچینو له لارې په یو اړخیز ډول د ملي

پالیسی د اجنډا پلې کول به ددولت جوړونې د کمزورې کولو سربیره ددوی اوږد مهالې ګټې به یوه کمزورې دولت ته په دوامداره توګه د مالې مرستود برابرولو او په دې کار کې د اوږد مهالې ښکیلتیا له لارې کمزورې کړي.

۳. د "درې اړخیزه تړون" د نظریې پر بنسټ د چارو تر سره کول: د دولت جوړونې په بهیر کې د بسپنه ورکوونکو او افغانانو تر منځ اړیکې او پر لویدیځو هیوادونو د افغانانو اعتماد د هغې اړتیا او برابرئ یوه مهمه برخه ده چې باید د بسپنه ورکوونکو په پالیسي او عمل کې په پام کې ونیول شي. که چیرې افغانان د دولت جوړونې د ملاتړ په برخه کې د نړیوالو پر اصولو او موخو باور ونه لري نو د دولت مشروعیت ته به په خپله زیان ورسیږي.

٤. له دولت سره د ښکیلتیا ترڅنګ د خلکود نظریاتو لټون: د پورتنی سپارښتنې پر بنسټ باید بسپنه ورکوونکې تر هر څه لومړی د دولت له لارې د کار کولو د هڅې تر څنګ د ارزولو هغه لارې چارې هم ولټوې چې د دوی کړنې د خلکو د ارزښتونو او کړنو سره په مخالفت کې نه دي.

٥. داسلامي اصولو پر بنسټ په افغان دولت جوړونه کې د زیاتو فرصتونو رامنځ ته کول: بسپنه ورکونکې ډیر څه کولای شي څو دا تضمین کړي چې افغانان د ځان لپاره د طالبانو را وروسته اسلامې جمهوریت د ماهیت د ټاکلو او بحث لپاره فرصت لري،کوم چې د دولت دمشروعیت لپاره خورا مهم دی.

٦. د بسپنه ورکوونکو د شرایطو له امله پر افغان حکومت د وارد شوي بار د را کمولو لپاره هڅه: د پورته څخه ښکته راپور ورکونې او د پالیسي جوړونې درانده بهیرونه، که څه هم چې ښه هڅوونکو او موخو درلودونکې وي په نوي رامنځته شوي دولت باندې ډیر فشار واردوي اوپه دې توګه د خپلو خلکو په وړاندې يې د ځواب ورکولو قوت کمزورى کوي.

٧. بامسؤلیته لګښت: ترلاسه شوې پیسې باید یواځې د حساب ورکونې د مناسبو میکانیزمونو د شتون په صورت کې مصرف شي.

٨. په افغانستان کې د بسپنه ورکوونکو ادارو د پوهې او حافظې پیاوړې کول: نومورې موخه د اوږد مهالو دندو پالیسیو، د دندو د سپارلو پر پړاو د زیات ټینګار او د نوو کارکوونکو د ټاکنې له لارې تر لاسه کیدای شي.

٩. د مرستو د "ښو" او "بدو" شرایطو پیژندل: د مرستو د شرایطو هغه ډولونه باید تعقیب شي چې د هغو پالیسیو مخه نیسي کوم چې د خلکو له غوښتنو او هوساینې سره په تضاد کې دي لکه د بشر د حقونو او دعامه حساب ورکوونې په برخو کې. لدې پرته، پر کورنۍ پالیسی د مرستو شرایط او د بسپنه ورکوونکې د لارښوونې ضمانت نه کیږي.

## پالیسي جوړونکو ته سپارښتنې

١. د پالیسی د بهیرونو په اړه د رښتینو هیلو ټاکل: د پالیسی بهیرونه د لګښتونو تر څنګ ګټې هم لري نو له همدې امله پیچلي بهیرونه د منسجمو لیډلورو د رامنځته کولو او په ادارو کې د وړتیاوو د لوړولو په موخه د فشار واردول، د ګټو د توټه کولو او منحرفولو امکان هم له ځان سره لري.

٢. د امکان تر حده د ساده والي او روڼوالي د اصولو پر بنسټ پالیسي جوړونه.

٣. د وزارتونوتر مینځ د لوړې کچې پالیسیو همغږي: په همدې موخه په دې وروستیو کې په حکومت کې یو شمیر میکانیزمونه رامنځته شوي دي. د خپلې ممکنه موخې د ترلاسه کولو لپاره دغه میکانیزمونه باید د اغیزمن مشرتابه او سیاسي ارادې سره مل وي.

٤. د وزارت د پالیسۍ او اړونده پروګرامونو تر منځ په ډیردقت سره د اندول رامنځته کول: دغه کار به هلې ځلې په ډیر اغیزمن ډول متمرکزې کړي، د زیاتوالي مخه به يې ونیسي او د زیات شمیر ممکنه سیالو اجنداګانو د رامنځته کیدلو خطر به کم کړي.

۵. د ”دوه ګوني عامه خدمت“ په نښه کول: د فني سلاکارانو د کارولو د منطقي ګڼلو او ملکي خدمتونو ته د غوره وړتياوو د ليږد اوسنۍ هلې ځلې، د ملکي خدمتونو د اوږدمهاله ثبات او پايښت لپاره خورا مهمې دي.

۶. د امکان تر حده دپاليسۍ او پروګرام جوړونې پراختيا: د ولايت او آن د ولسواليو په کچه په پاليسي جوړولو زيات ټينګار به دداسې پاليسي د رامنځته کيدلو لامل شي چې د شرايطو سره سمه او د خلکودغوښتونو په وړاندې ځواب ويوونکې وي ، که څه هم چې ښايي هغه په تدريجي ډول وي.

۷. په خورا سيستماتيك ډول د افغانستان د مدني ټولنې د فعالانو ورګډول: د پاليسي جوړونکو او مدني ټولنې تر منځ يو هر اړخيزه او منظمه همکاري د نوموړو بهيرونو د استازيتوب د پراخوالي وړتيا لري.

## څېړنيزو ادارو ته سپارښتنې

۱. د پاليسۍ پر اړونده موضوع ګانو دعمومي پوهې اغيزه او پراختيا : ملي پاليسي جوړونکې ډېر ځلې د اصلي وضعيت څخه پوره معلومات نه لري نو هغه څېړنه چې پاليسي پورې اړونده برخو کې موجودې کړنې، سيستمونه، او نظريې څرګندې او مستندوي، کولای شي دغه تشه ډکه کړي.

۲. د حکومت، مرستندويه سازمانونو، او مدني ټولنې په ګډون پاليسی پورې اړونده بيلابيلوادارو تر منځ د همفکره فعالانو د مدافعې ترونونو جوړول: د پاليسي جوړونکو او څېړونکو تر منځ د دوه اړخيز اعتماد اړيکې، په پاليسي جوړونه کې د څېړنيزو شواهدو په پام کې نيولو د ډاډګيرنې يو بنسټيز عنصر ګڼل کيږي.

۳. د د فرصتونو لپاره هلې ځلې: د سياسي فشارونو سره سره ډېر ځلي پاليسي جوړونکې د خپلو معلوماتو په نه بشپړتيا اعتراف کوي او د نورو معلوماتو او اسنادود ترلاسه کولو په لټه کې وي.

۴. د پاليسي جوړونې او دولت جوړونې بهيرونو په وړاندې د هينداري اېښودل: د نوموړو بهيرونو ثبتول او د عامه لاسرسۍ وړ ګرځول د پاليسۍ په جوړولو کې روڼوالی زياتوي او خبرو اترو لپاره لاره هواروي.

د دغې خپرونې نسخې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې له دفتر څخه په وړیا توگه تر لاسه کولای شئ:


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د گل پلورلو سړک ( د واټ څنگ) نوی ښار کابل، افغانستان

ټلیفون: ‎+٩٣ (٠) ٧٩٩ ٦٠٨ ٥٤٨

برېښنالیک: areu@areu.org.af

برېښنا پاڼه: www.areu.org.af


AREU